مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۵/۱۰/۰۲

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۴۴مه برخه

لکه چې خا ورېږي مې په خوله شوې
د جـانـان کـور نـه د سنـدرو غـږراخـیـنـه

د کرنخان کافره غږه
تللی جانان راياوې، تباه دې کړمه

د پشکال په ګرمۍ پوخ شي
ځنګه دې ورانو دیوالو ته پرېښودمه

خدايه ګنجي ځنیور نهکې
د فيسبوکپاڼي په عکسونو ډکوينه

د لنډيو د دې برخې لهپاره، دا نوې لنډۍ راټولې شوې دي:

جانانه زوړ نيکه دې مړ شه
چې فاتحې ته يې درځم، ودېوينمه

ما وربښلی يی لاليه
که له ما ډېره مينه بل څوک درکوينه

د سپينيخولې زکات دې راکه
پر پيغلو نجونو باندې فرض دي زکاتونه

غماز دې خپله غمازي کړي
چې ستا کرم وي، غماز څه کولایشينه

د زړه په زور مې خندا وکړه
يار مې غلط کړ، ترينه پټ مې کړل غمونه

ببلتونه ښه سزا دې راکړه
يو رنګدېوال دی، بله زه ورناستهيمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په تومت مهشرمېږه یاره
په ښوځوانانو پسې تل وي تومتونه

لکه چې خا ورې مې په خوله شوې
د جانان کور نه د سندرو غږراځینه

لالی دې خپله خوښه وکړي
که بلڅوک نه و، زه يې بيا په تمه يمه

زما دیدن ستا پهٔ قسمت و
باد پرې بانه شو، تیکری لاندې ولوېدنه

د پشکال په گرمی پوخ شي
څنگه دې ورانو دیوالو ته پرېښودمه

ورځه ـ ورځه پهکار مې نه يې
پر سپین تیتر باندې دې نور کوي خوبونه

څه په اباد ښار کې، اباد يوو
يودووته ياد يو، نورو واخيستل لاسونه

جانان خو بيا خطايي وکره
ليونی شوی دی، په ما کبرکوينه

خدایه گنجی څنیور نهکی
د فیسبوکپاني په عکسونو ډکوینه

د تا په زړه به ما ته څه وی
زه خو د خولې زاولي په ناز درنيمومه

بېلتون له هر چاسره مل دی
زهٔ تنها نهٔ یم چي گیلي ځني کومه

سبا به ستا ایمان معلوم شي
پلار مې د سرسودا له بل سره کوينه

وارخطا کېږهمه لالیه
زه دې ترڅنگه لکه غر ولاړیمه

سترگي مې دوو نه څلور شوې
له کلي تلليخلک ولي نهراځينه

چې هرڅه شوي، له تا شوي
د تناره د سر برغولی شي بېلتونه

حجرې له وړکو نه خالي شوې
ټول مسافر شول، په پردي وطن کې دينه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

احوال لرې، که خبردرکړم
لاليه ځان پـه لـيونـو حسـابـه‌ومـه

بېرته مې مه‌شړه نيمګړی
زهٔ دې پهٔ تمه د ليدو راغلی يمه

يا زلزله ده ځمکه خوځي
يا به جانان سترګو ته رپ ورکړی‌وينه

په انګريزي ټوپک مې وله
مرګ مې روا ده، په ورکړې مئين يمه

دومره مې مه‌رټه جانانه
مرګ راپسي دی، بيا به وکړې ارمانونه

په سترګو روغ درته ښکارېږم
تر زړه مې تاو دي د سرووينو څو ډندونه

پردي‌کورونه، دوزخونه
مجبوره نجونې په‌کې عمرتېروينه

راځه، راځه وطن ته راسه
په غم ککړسي، پلار مې بل ته ورکوينه

له ياره زړه صبرول ګران دي
پر دريابونو کربښې چا ايستلې‌دينه

ودې‌ليدم چې تس مې درکړ
ته مې مئين کړې، زه کراره کېناستمه

د جدايۍ اوله شپه ده
ده درد ګولۍ ورته په لپو ـ لپو خورمه

د کرن‌خان کافره غږه
تللی جانان راياوې، تباه دې کړمه

له ما نه خپل غمونه هېر دي
زه د جانان غمو په سر اخيستی‌يمه

د کجاوې د غاړې ګله
پرون تازه وې، نن دې مړه دي ډنډرونه

باران وريږي، شال پرسر کړه
پېريان مې نيسي، چې لنده دې ووينمه

خبر مې واخله، کافر نه‌يم
کال مې پوره شو چې رنځور درپسې‌يمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

څه کال تر کاله بدتري ده
چې کال تیریږي، بدرنګیږي صورتونه

کلی دې ټول شاته ولاړ دی
لالیه بخت ته دې سوچونو وړیېمه

په نیـمـه شپـــه باندې را نه‌شي
بابا ټوخیږي، ابۍ نبغه ناسته وینه

څـه لیوني وختـونه تېـر شول
په نیمه شپه به د جانان کلي ته تلمه

په نیمه شپه هسې رایاد شوې
هغه راغلی خوب مې بیا وتښتیدنهٔ

د نیمې شپې راتګ دې ورک شه
سترګې مې پټې پټې کیږي، خوب راځینه

په نیمه شپه بیداره اوسه
د بزګر لورې پلار دې بیا اوبو ته ځینه

په نیمه‌شپه خلک ویده شي
پر ما میلمه شي د شیرین‌وطن غمونه

د خپل میُن ټپوس دې وکړه
په لیو ـ لیو ګولۍ خوري، دریسې مرینه

په نیمه شپه دیدن ته راشه
خلک ویده وي، ستوري نه وایي حالونه

ببګا دې نیمه خولګۍ راکړه
ژبه مې سوځي، غاښ مې ټول ورژېدنه

د نیمې شپې راتګ دې ورک شه
د نیمې شپې ورک شوي چا موندلي دینه

په نیمه شپه مې ازار وکه
تاته مې نه که، یاره خپل ځان غرقه ومه

په نیمه شپه دې سلګۍ وکړې
یاره ناروغ یې، که نیستي دې ژړوینه

د چا په خیال خاطر کې نه یې
یوازې زه لیونۍ زړه دریسې خورمه

وعده دې وکړله، رانغلې
ببګا مې ټوله شپه نوکان خوړلي‌دینه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**ستړو کنډوه، جګه سره**
**پر تا اوښتي وړکي بیا کله راځینه**

**لالي به څوک په خبر پوه کړي**
**د لار ملګري یې په بنګو روږدي‌دینه**

**سترګې زما سترګو کې ځای که**
**سترګې مې ستا د سترګو ډیرې وږې دینه**

**جینی ولاړه په مانځه ده**
**پیرزو مې نه‌شي تور اوربل په خاورو ږدینه**

**په تورو سترګو مې ړنده کړې**
**چې جانان نه‌شته، زه یې ولې تورومه**

**خندا لهٔ تاسره ښایېږي**
**ماته خوپروت کنډر وطن او ډېرغمونه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

[http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95](http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ